

# غازي امان الله خان

ليکوال:سروراحمد :مخلص:

نيټه:۱۳۹۹/۱/۲۹

بسم الله الرحمن الرحيم

ډالۍ:

ټولو هغو افغانانو ته دي ډالۍ وي چي شاه امان الله خان نیمګړي ارمانونه بشپړوي.

سرور احمد:مخلص:

# عنوان

۱:شاه امان الله خان ژوند لیک.
۲:شاه امان الله خان څنګه دانګریزانوڅخه خپلواکي ترلاسه کړه.
۳:دشاه امان خان دباچاهی پرمهال ۳ سترارمانونه اونوروبرخوکی لاسته راوړني.
۴:داماني دوري څخه دملایانوپه لباس کي دبریتانیا غوښتني.
۵:شاه امان الله خان دخپلي باچاهی پرمهال اروپاته سفر.
۶:شاه امان الله خان دباچاهی څخه استفاء.
۷:له وطنه لیری شاه امان الله خان ژوند.
۸:غازي امان الله خان دلورهندیه خاطري.
۹:هټلرته دشاه امان الله خان ځواب.
۱۰:ډاکټرنجیب الله ویناده امان الله خان په اړه.
۱۱:غازي امان الله خان په اړه تاریخي حقیقتونه.
۱۲:شاه امان الله خان مړینه اودپاکستان غوښتنه.
۱۳:شاه امان الله خان سره دخلکومینه.
۱۴:افغان ولسمشرمحمداشرف غني لخوادشاه امان الله خان نیمګړی ارمان پوره کول.

# شاه امان الله خان

شاه امان الله خان په ۱۲۷۱ه ل کال کي دکابل په پغمان کي زیږیدلي دي.

شاه امان الله خان دامیرحبیب الله خان زوي دامیرعبدالرحمن لمسی اودامیرمحمد افضل خان کړوسی اودامیردوست محمدخان کودي دي اودموریی سرورسلطان بیګم نومیده.شاه امان الله خان خپلي لومړنی زده کړی په شاهی دربارکي سرته رسولي اونوری زده کړی یی په حربی ښوونځي کي سرته رسولي اوپوځي زده کړوکي یی ځانګړی اوستاذ درلودچي محمودسامي باچانومیده.

امان الله خان دخپل پلارپه دربارکي زیات محبوبیت اومینوال درلوده.

شاه امان الله خان ډیرزړه سوانده شخصیت وه.

کله چي په۱۲۹۸ه ل دامان الله خان پلارامیرحبیب الله خان دلغمان په ګلاکوش کي ووژل شو.په هغه وخت کي امان الله خان دکابل والي وه اودکابل فوځ اوخزانی ټول واک دده په لاس کي وه.نوپه همدی وخت کي امان الله خان په کابل کي باچا هی اعلان کړه.




# شاه امان الله خان څنګه دانګریزانوڅخه خپلواکي ترلاسه کړه

خپلواکي هغه قیمتی ګوهردي چي زموږخلکودوینوپه بدل کي ترلاسه کړنوځکه ارزښت یی هم ډیردي.

زموږپه هیوادکي دتنظیمی جګړوڅخه مخکي خپلواکی دیوملي جشن په توګه یو اونی لمانځل کیدل اوخلکویی په خوشحالي هرکلی کاوه.

خودسردارمحمدداودخان دجمهوري دولت دسقوط وروسته دخپلواکی لمانځلودودکم رنګه شواوحامدکرزی دحکومت پرمهال یی هم خوندنه وه.

دافغانستان په خپلواکي پوري شاه امان الله خان نوم تړلی دي اوهروطن پرسته افغان دافغانستان خپلواکی محترمه ګڼی اوازادی غوښتونکی رهبرشاه امان خان

ته درناوى لري .

پدي کي شک نشته که امان الله خان دانګريزانوخلاف پاڅون نه واى کړي اودخپل پلارپه ځيردهغوى سره غاړي وړى واى شايدترمرګه دافغانستان باچا پاته شوى واى.ترڅوچي انګريزانونه واى غوښتي هيڅ څوک به دده پرضد نه واى راپاڅيد لي .نوداچي نوموړي په ازادي ميئن اپرخپلو خلکواودوطن سياسى خپلواکى يى غوښتل خپله باچاهى تخت اوتاج يى دخپلواکى په لاره کي کيښودل.

شاه امان الله خان په لومړي ګام په۱۲۹۸ه ل دکابل په مرادخانى ميدان کي کابل ښاريانوته دافغانستان ازادى غوښتنه وکړل اوخپل حکومت يى دمکملى ازادى لپار ه تيارکړ.نوموړي په همدي ناسته کي وويل زماکرانه ملته زه دعسکرى دغه لباس ترهغه دځان نه باسم چي خپلي موروطن ته دخپلواکى جامي وروانه غوندم.

زه داتوره پخپل پوښ کي نه ږدم ترڅوچي دخپل ملت دحقوقو غاصيبان پخپل ځاي کي کيننوم . اى زما کرانه ملته اوزما پيداکاروسرتيروخپل وروستى هستى دوطن دژغورلولپاره راوړي اوراشي خپل دغيرت څخه ډک سرونه دخپلواکى لپاره قربا ن کړو.دازادى غوښتونکي باچا داخبري دکابل دښاريانولخوادالله اکبر،زندابادشاه امان الله په ناروسره بدرګه شوي دباچاکلک عزم اودملت په ملاتړافغانستان خپله سياسى خپلواکى ترلاسه کړه.شاه امان الله خان دهغه وروسته ۱۲۹۸ه ل کال دزمر ى ۲۸ يى په راولپنډى کي دسولي تړون دانګريزانوسره لاسليک کړ.

اودزرنګارپارک په زرافشارمانى کي دافغانستان خپلواکى رسما اعلان کړه.

# شاه امان الله خان دباچاهی پرمهال ۳ سترارمانونه اونوروبرخوکي لاسته راوړني

لومړي ارمان:دښوونځیوجوړول.شاه امان الله خان دازادی اخیستلووروسته ملت ته په وینا کي وویل .ای زماملته دخدای اووطن لپاره دعلم په برخه هڅه وکړی ځکه یوازی دعلم له لاري موږیی په سبب دنیاوي اواخیروی کامیابی ترلاسه کولای شو.نوځکه یویی بی علمه سړی نشی کولای خدای وپیژنی اوله هغه وروسته شاه امان الله په ټول افغانستان کي دښوونځیوجوړول پیل کړل ښه مثال یی لومړنی ښځینه ښوونځی دملکه ثرایا په نوم په کابل کي دانجونودزده کړي لپاره جوړه کړه اودښوونځیودجوړولووروسته یی پرخلکوږغ وکړچي اولادونه ښوونځی ته واستو ی.

دویم ارمان:دخلکوپوهول اوملی یووالی رامنځته کول.

شاه امان الله خان اومشروطه غوښتونکی یارانویی دخپلواکی داخیستلووروسته پاته والی له پړاودتیریدواوهیوادکي ټولنیزوبدلونونوراوستووپه خاطریولړاصلاحات پیل کړه.چي پیل یی دملی یووالی څخه وه شاه امان الله خان دټولومسائلومخکي ملی یووالی ته ارزښت ورکړ.اوپه ډیری هوښیاری سره یی هڅه وکړه چي افغانانوته په مساوی حقوقوپه ورکولوسره ملي یووالی رامنځته کړي .

دریم ارمان:دټولنیزواصلاحاتوپه لړکي یی داماني دولت یوموهیم کارداساسی قانو ن طرحه اوتصویب وه چي په ۱۳۰۱ه ل کال کي په جلال ابادکي په یولویه جرګه کي دشاه امان الله خان په مشري تصویب شو.اوپه لومړي ځل افغانستان پخپل ۵۰۰۰ کلن تاریخ کي دیوداسی اساسی قانون څښتن شوچي انسانی حقوق

ته پکښی درناوی شوی وه.
شاه امان الله داساسي قانون په۱۶ ماده کي راځي چي دافغانستان ټول وګړي دشر یعت اودولتي قوانینوله مخي دمساوي حقوقوله وجائب څخه برخمن دي.
دشاه امان الله خان داساسي قانون په۱۱ماده کي راغلي دي چي په افغانستان کي د اسارت اوغلامي اصول بلکول خلاص دي ددې مادي پراساس۷۰کلونوپه شاوخوا کي هزاره غلامان اومینځي دخپلواربابانوله کورونوراووتل.په همدي خاطردنورو قومونوپرتله هزاره ګانودشاه امان الله خان دفاع ته راودانګل.اووروسته یی دسقاو حکومت هم وځپه.
تاریخ لیکوونکي غلام محمدغبارشاهیدي ورکوی چي داساسي قانون موادعملي کیدل اودروغ ،ریااوچل پکښي نه وه.ددي اساسي قانون پراساس دهندوانوماشوما نواولویانوپه ښوونځی کي ومنل شوه اونوردقوم،ژبي اودین په نوم تعصب نه وه.
دشاه امان الله خان دباچاهي کي په اقتصادي برخه کي دصنایعوانکشاف اوپه خار جي تجارت کي افغانی پیداواروخارجي مارکیټونوته لاره وموندل.
اوپه معماري په برخه کي نوی ښارونه جوړشول اودکابل ښاردپخواڅخه څوچنده پراخ شواودولایتونوترمنځ لاري اوسړکونه له سره جوړشول اولویولاروکي دمسا فرودهوسایني لپاره هوټلونه جوړشول.
شاه امان الله خان افغان زده کوونکی دلوړوزده کړولپاره بهرني هیوادونوته پدي خاطرواستول چي دهیوادپه بشپړه ابادي اوسمسورتیاکي برخه واخلي.
خودبده مرغه ځینوژرغوښتونکودباچادغوکارونوته بل نوم ورکړاوباچاته یی سر درداودکارونوپه وړاندي یی خنډونه جوړکړل .

# داماني دوري څخه دملايانوپه لباس کي دبريتانيا ۱۰ غوښتني

۱:ملکه ثرايا ته دي طلاق ورکول شي.

۲:دمحمودطرزي ټوله کورني دي دهيوادڅخه وشړل شي بيله محمودطرزي څخه هغه دي زندان ته واچول شي ترڅودخپلوغيري اسلامی کارناموله امله اعدام شي.

۳:ټولي ښځينه ښوونځيوتدريسی فعاليتونه دي وځنډول شي.

۴:له ترکيی څخه دي ښځينه زده کوونکی اوبهرني هيوادوڅخه دي ټول محصلين راوغوښتل شي.

۵:دبريتانياڅخه پرته نوري ټولی سياسي نمايندګي دي په هيوادکي وتړل شي.

۶:نوي قانون اونظام نامه دي لغوه اعلان شي.

۷:ماليه دي لغوه اعلان شي.

۸:دلباس قانون اومروج لباس دي ممنوع شي اوټولي ښځينه دي بورګي ياڅادري پرسرکړي.

۹:پرښځوباندي اسلامي حجاب بايد په زورتطبيق شي.

۱۰:ټولوملايانو،شيخانو،خندانواوروحانينوته دي ددولت په چوکات کي مناسب معاش تعين شي.

# شاه امان خان دخپلي باچاهي پرمهال اروپا ته سفر

امان الله خان خپل عصردتوري نه بلکي دقلم عصرګڼه اوهڅه یی کول یوړوندانده پرمختللی اوپه عصري وسایلوسمبال ټولنه رامنځته کړي .نودهمدي هدف لپاره نوموړي خپلې میرمني ملکه ثرایااودولتي چارواکوسره یوزاي داروپادسفرپه نیت د۱۹۲۷م کال ډسمبرپر۱۰کابل څخه دکندهارپرلوراوکندهارڅخه چمن ته اوله چمن څخه کوټیه ته اوکوټي له لاري کراچي ته ورسید اوکراچي څخه دسمندرله لاري ممبیی ته اووروسته دډسمبر۲۶دمصرپوټسعدښارته ورسیداوسترښارقاهري ته په رسیدودګڼومصریانوله تودهرکلي سره مخامخ شو.

اوشاه امان الله خان مصرته دخپل سفرپرمهال دمصرولسي جرګي ته وینا وکړه او یوشمیرنوري لیدني یی هم وکړي.پدي هیوادکي د۱۰ورځودتیرولووروسته نوموړ ي دایټالیا په لوري ولاړي اوله بیړي له لاري نیفل ښارته اوبیاله هغه ځایه په ور ګاډي کي پلازمیني روم ته ورسید.په روم کي دافغان پلاوي داستقبال لپاره دایټالیا دباچااوملکي په ګډون صدراعظم مسولوني اودکابیني غړي راوتلي وه .

په ایتالیا کی دمشرانوسره په ملاقاتونوسربیره امان الله خان ددي هیواددپوځی او صنعتی لویوفابریکولیدنه هم وکړه.

پدی مهال ایټالیا شاه امان الله خان ته یوټانګ سوغات کړ.او۶۰ افغان زده کوو نکوته دبورس ورکولوژمنه وکړه پدي سربیره دایټالیا شاهي کورني شاه امان الله خان ته دخپلی کورني اعزازورکړ.

امان الله خان ۱۹۲۸م کال دجنوري په۲۲ دایټالیاڅخه دفرانسي په لورحرکت وکړ.

اوستربنارپاریس کي یی دفرانسوي چارواګوسره دلرغونپژندني،فرهنګ اوزده کړ وپه برخه کي په همکاري خبري اتري وکړي .
دفرانسی دسفروروسته امان الله خان دلږمودي لپاره بلجیم اوسویس هیوادونوته سفروکړ.اوبیاله هغه ځایه دفبوري به۲۰جرمنی هیوادته ولاړي .نوموړي نه غو ښتل چي په جرمنی کي تاریخي اولرغونی ځایونه ووینی بلکي دپوځي اوصنعتي تاسیساتواوفابریکواوښوونیزواوروزنیزومرکزونولیدنه یی وکړه.
پردي مهال شاه امان الله خان ته دالمان پوهنتون لخوادانجنري په څانګه کي د دوکتورا افتخاري سند ورکول شو.
دجرمني دسفروروسته افغان پلاوي داوبوله لاري دمارچ ۱۳ بریتانیا ته ورسیدي. چیري چي دشاهی کورني،صدراعظم اوکابیني دغړودتودهرکلي سره مخامخ شو.
شاه امان الله خان بریتانیا کي۲۳ورځنی سفرپرمهال دلندن په شمول یوشمیرښارو نولیدنه وکړه.په بریتانیاکي دنوموړي په ویاړیوشمیرمراسم اوغونډي جوړی شو ی.ددي هیوادنامتوتعلیمي اداري اکسفورډ پوهنتون لخوانوموړی ته دمدني حقوقو په برخه کي افتخاري دوکتوراسند ورکړ.بل خوادبریتانیاباچا شاه امان الله خان ته دخپل وروږپه هیڅ په شاهي وکتوري ځنځیرسره وناځوه.
افغان پلاوي دبریتانیاڅخه دغیری رسمي سفرلپاره بیرته فرانسي اوجرمني ته د ۳ او۱۵ورځولپاره ولاړي اوله هغه ځاي څخه بیادپولینډ ته په ۳ ورځني سفرپلاز میني وارسای ته ورسید له هغه ځایه امان الله خان دمي پر۲ نیته شوروي ته ور سیدي مسکوته درسیدوپروخت روسي چارواګودنوموړي تودهرکلي وکړ.اودالو تکواوجنګي بیړي دافغان پلاوي سمندري بیړي بدرګه کول.

په مسکوکي دشوروي مشرانوسره دليدني پرمهال امان الله خان ددواړوهيوادونوتر منځ په سوداګري اونوروچاروخبري اترى وکړي.دشوروي دسفروروسته امان الله خان دکاميا له لاري دخپل بهرني سفرپه ترڅ کي دمي١٨ استنبول ته ورسيد.

اوپه ترکيه کي يى ٢ اونۍ تيري کړي .دکمال اتاتورک سره دليدني پرمهال دواړو مشرانوپخپلواصلاحي تګ لاروپردوام خبري وکړي.

اوپرعدلي اوپوځي برخوپرهمکاري يى هم خبري وکړي.دترکيى دسفروروسته امان الله خان دجون پر٦نيټه ايران هيوادته داخل شوچي پلازمينى تهران ته رسيدو دايران باچا رضاشاه پهلوي اودکابيني دوزيرانواولوړپوړوچارواکولخوايى هرکلى وشو.

دځه باندي ٦ مياشتني سفروروسته دشاه امان الله خان په مشري افغان پلاوي ١٩٢٨م کال دجون پر٢٠نيټه افغانستان ته ورسيدي.

اوپه کندهارکي دځوورځوترتيريدو وروسته دجولاي پر١نيټه پلازمينى کابل ته ورسيدي.

# شاه امان الله خان دباچاهي څخه استفاء

کله چي شاه امان الله خان دهيواد دلاپرمختيا په هيله ۱۹۲۷م کال په وروستيوکي د اروپا په سفرولاړي اوچي بيرته داروپا له سفرڅخه راستون شو.اودباچاداصلاحي کارونوپه مقابل کي خنډونه لا نورهم زيات شول اوبيادسقاوزوي اړودوړجوړکړ. اميرامان الله خان ونه غوښتل چي په هيوادکي وينه توي شي نود۱۳۰۸ه ش کال کي استفاءورکړل اوپرځاي يی خپل وروررعنايت الله يی پر باچاهي وټاکي. خودسقاودزوي حبيب الله کلکاني په سرکي دباچاهي نشه وه.اوارګ يی محاصره کړاوعنايت الله هم دباچاهي څخه لاس په سرشو.همدامهال غازي امان الله خان د کندهارله لاري هند بياودهندڅخه ايټاليا ته ولاړي .



## له وطنه څخه ليري دشاه امان الله خان ژوند

شاه امان الله خان د۱۰ کلنی باچاهی وروسته د۱۳۰۸ه ش کال کي دناچاري افغا نستان پريښود.دمحمدشريف ځدران په خبره.امان الله خان مجبوره شوچي استفاء ورکړي اوداستفاءڅخه وروسته کندهارته ولاړي اوپه کندهارکي پرده باندي مختلف قومونه راټول شول.اودوهم ځل لپاره غزنی ته ولاړ.ترڅودسقاودزوي څخه واک واخلي.خوکله چی په غزني کي ده وليدل چي دقومونوترمنځ جنګ شر وع شو.نوهغه وخت غازي امان الله خان خپل پلويان راټول کړل اوورته وويل چي زه نه غواړم زمادتخت اوتاج دنيولوپه خاطرتاسوقربانی شي نوزماهيله داده چي تاسوجنګ پريږدي.نوهغه وه چي دي کندهارته ولاړي اوله کندهارڅخه کرا چي ته اوله کراچي څخه ايټاليا ته ولاړي.

ايټاليا ته درسيدو وروسته ديوي مودي لپاره پدي وداني کي پاته شوچي يی دعنوان

سره یی ماعکس ایږدي.اودغه وداني شاه امان خان خپله دنن څخه ۹۵کاله پخواپه ایټالیا کي دافغانستان دسفارت لپاره رانیولي وه.اوپه دغه ودانی کی اوس هم دافغا نستان سفارت دي.اواوس دغه ودانۍ دشاه امان الله خان په نامه یادیږي.
دوحیدعمرپه خبره:وحیدعمرپه ایټالیا کی دافغانستان پخواني سفیروه .
عمروایی چي شاه امان الله خان داسی فکرکاوه چي په ایټالیاکي به دده سفردموقت وخت لپاره وي اوکه دی له افغانستان څخه ولاړي شایدحالت بدل شي.
نودحبیب الله کلکاني دحکومت په دوره کي دي سره دخپلي کورني په سفارت کي اوسیدی نوبیا چي کله نادرشاه باچاشونوبیادخپل سیاسي استازي وټاکل په اروپاکي اوبیایی شاه امان الله خان ته حوال ورکړ.چي دادولتي ځاي دي اولدي ځایه ووځه او وحیدعمروائی دشاه امان الله خان څخه یوڅه رسمي اسنادهلته سفارت کي پاته شویدي چي تراوسه ساتل شوي لکه.هغه بیعت نامه چي د ظاهرشاه ته لیږلي وه هغه بیعت نامه موجودده.اوپه ایران کي دافغانستان دسفارت لخواچي دده سره مالی مرسته کیدل.هغه اسنادموجوددي ،کوم پاسپورټ چي دنادرشاه دواکمني پرمهال ده اوکورني اخیستي هغه اسنادهم موجوددي.
اوشاه امان الله خان دنادرخان په وخت کي حج ته ولاړي اوحکومت لږمرسته ور سره وکړه.خوحکومت دده سره هروخت یوڅه مرسته کوله پدی شرط چي دي به افغانستان ته نه راځي.اودافغانستان سره به کارنلري...
وروسته شاه امان الله خان په روم کي کوررانیوي اویوڅه وخت هلته دخپلي کور ني سره اوسیدي.
وحیدعمرپه خبره دشاه امان الله خان اقتصاد ډیرښه نه وه چي وروسته دی ته

مجبوره شوه چي بيرته کورخرڅ کړي.
دوحيدعمرپه خبره.پرشاه امان الله خان داسي وخت هم په روم کي راغلي چي نو موړي په روم کي به يی دورځي يوڅه کاروکړاويوڅه پيسی به يی پيداکړي.اوبيا به يی کورني ته يوڅه خواړه راوړل.افسوس افسوس دافغانانوپرحال
۱۹۴۸م کال کي چي عثمان اميرپه روم کي دافغانستان سفيروه.اميرامان الله خان ته ورغلي نوهغه چي دامان الله خان سره دحکومت رابطه بيرته شروع شوه.
اوبيادکابل څخه يوڅه کومک ورسره کيدي داولادونوپه نوم يی.
پدي اړه چي شاه امان الله خان ولي دبل هرځای پرتله ايټاليادژوندلپاره غوره کړل نظرونه دادي:۱:چي ايټاليا لومړني لويديځ هيوادوه چي دافغانستان خپلواکي يی په رسميت وپيژندل.
۲:کله چي شاه امان الله خان دواک پرمهال دغه هيوادته رسمي سفروکړنودتودهر کلي يی هلته وشو.
۳:بل نظردادي چي ايټاليا شاه امان الله خان ته تليګراف وليږي اوله ده څخه يی وغوښتل چي ايټاليا ته ورشي.
دشاه امان الله خان دلورشهزادګۍ هنديه په خبره:کله چي به لمرلويدي زمادبابا جان به ډيرخوښيدي اوويل به يی دنړي دټولوښايسته وخت دي.
اوکله چي به لمردغره شاته يابه دسمندرکي کيناسته نوباباجان به وويل چي اولادو نوارام اوسي اوس خبري مه کوي دغه مهال به يی دسترګوڅخه اوښکي راغلي افغانستان به يی يادیده.
دشهزادګي په وينا.مورمي ملکه ثرايا دژوندپه وروستيوکي سخت ارمان درلودي چي شين رنګه کميس والري خودغه ارمان يی ترمرګه پوره نشو.

# غازي امان الله خان دلورشهزادګۍ هندیه خاطري

غازي امان الله خان لورکیسه کوي چي په دویم نړیوال جنګ کي زموږ اقتصادي حالت ډیرخراب شو.چي ۳ وخته به موشلغم خوړل ځکه چې نورخواړه کران شو ي وه اوموږیی درانیولوتوان نه درلود.

زه اوخورمي چي د۷او۸کلونووه.خپل وزن مووبایلی خورځواکي شولوپلارمي اړ شوچي موږ سویس یوخیریه موسسي ته وسپاري دغي موسسی دبي سرپرسته ماشومانوساتنه کوله اوښه خواړه یی ورکول .موږبه په کال کي ۳ میاشتي هلته اوسیدلو.بل ځل چی موږډیرخوارځواکي شوي وه.د۲کالولپاره یی هغه سویسي موسسی ته وسپارلوکه څه هم چي یادی موسسی د۳میاشتولپاره یی ماشومان ساتل خوددغې موسسی مشرزموږپلارپیژانده.نوموږیی پوره۲ کاله هلته وساتلوپه ټوله موده کي مایوه جوړه جامي درلودي ژمني جامي وي .اوکله به مي دورورېلاپوښ اغوسته چي هغه مي ورته دپلارڅخه پاته وه اوډیرزوړشوي هم وه.

داده افغانانوهغه مشردکورني حال وه چي افغانان یی دانګریزانودژرڅخه خلاص کړه اوافغانانوته یی خپلواکي ورنصیب کړه.

داټول دافغانانوده بي اتفاقي دلاسه.دغه حالات دشاه امان الله خان پرکورني تیر شول.




# هټلرته دشاه امان الله خان ځواب

ددوهمي نړيوالی جګړي پرمهال چي دالماني نازيانودمقدرمشرهټلردقدرت كيسی په ټول نړي كي خپري وي.كله چي غازي امان الله خان په ايټالياكي وه.هټلرليک ورته وليږي اووړانديزورته وكړچي په ۴۸ ساعتونوكي به يی بيرته دافغانستان باچاكړي خوپدي شرط چي دخپلوعسكروسره به پرشوروي اتحاد حمله وكړي.
اوالمان به ستاسوهرډول مرسته كوي.
خوغازي امان الله خان دهټلردغه وړانديزرد كړ.اوهټلرته يی داسي ځواب وركړ.
كران ورور هټلره.ستاسووړانديزماته راورسيدي تاسومحترم ته بايدووايم چي په هيڅ نوم اوډول په افغانستان كي تخت اوتاج نه غواړم په ځانګړي توګه چي يوبل هيوادماته دخپل وطن تاج اوتخت تياروي كه څه هم توكمي مي هم وي.
سره لدي چي ستاسي سياسي غوښتني هم ورسره مشروطي وي.

هيځ کله درته نه حاضريږم چي دسلطنت تاج اوتخت ترلاسه کولوپه خاطردافغان ملت حيثيت ترپښو لاندي کړم.هيله ده زما بخښنه ومني .

هټلرداغوښتنه هغه وخت داميرامان الله خان څخه وکړل چي نوموړي په ايټالياکي دګډوال په توګه اوسيدي.اوامکان لري چي داغوښتنه دايټاليادصدراعظم موسلوني په غوښتنه شوي وي.

دامان الله خان دټولوخطرونوپه منلوسره دهټلروړانديزونمانه لدي کيسی څخه دا درک کولای شوچي شاه امان الله خان څومره دوطن دوسته اوله ځانه تيرانسان وه اوسني افغان چارواګوته راسه چي دچوکي ده ترلاسه کولوپاره دخپلوافغانانووينې تويولوته هم اماده دي.افسوس دافغانانوپرحال.

# ډاکټرنجیب الله وینا دغازي امان الله خان په اړه

ډاکټرنجیب وایی:غازي امان الله خان دفشارلاندي راغلي.اوداوطن یی پرېښود.
اوپه اخیروشپواوورځوکي یی ډېربدژوند تیروه.
اویوازیني غوښتنه یی داوه چي زمامړي بیرته وطن راوړل شي اودلته ښخ شم.
نوهغه وه چي جلال ابادکي ښخ شو.مکرهغه ته په تاریخ کي څوک سه وایی
غازي امان الله خان ورته وایي اوافغانانوته یی استقلال کټلي دي اودترقي په لاره
کي یی مبارزه کړي ده.خبره ددي نده چي دي ژوندي پاته شي یامړشي خبره
ددي وه چي تاریخ یی ګټلي دي.

:ډاکټرنجیب الله احمدزي وینا:

# غازي امان الله خان په اړه تاریخي حقیقتونه

غازي امان الله خان چي کله دخپلي خاوري څخه تبعت شوله هند له لاري ایټالیا
ته روان شو.په کښتۍ کي دیوفرانسوي خبریال هم ورسره وه.خبریال ورڅخه وپو
ښتل.تاسوغازي امان الله خان یاست.غازي هوصاحبه.خبریال وپوښتل چي خبرشوم
تاسوتبعت شوي یاست.غازي وویل هو.خبریال وویل پداسي حال کي چي تاسود
اروپا په سفرکي پرمختګ اوماډرنیزم ولیدي هیوادمودرته اړتیا نه درلوده.
غازي وویل لري ئی خوځوک مي پرېږدي چي کاروکړم.غازي ګویان شوماخلکو
ته مي دپیژند پانېودجوړولوسپارښتنه وکړه هغوي یي مخالفت وکړ.

ماجزاوتاكل هغوي د ۶۰ درولپاره په دواطلب ډول حاضرشول.
ماتليفون راوړي خلكوكافرګڼلم وائي دخلكوپټي خبري اوګرني ځاري چي اسلام داكارناروا ګڼي.
ماښوونځي جوړي كړي خلكو ويل داسړي بي دينه شوي اوماشومان بايد يوازي ديني زده كړي وكړي اودكافرانوخبري ورته ګټه نه كوي.
ماورته ريل ياورګاډي راوړل پداسي حال كي چي لږهيوادونودرلوده خودوي د پيريانوځاله وګڼله اومخالفت ته يي دوام وركړ.
ملايانوپه لاوډسپيكركي ږغ وكړچی غازي كافرشويدي اوخلكوته يی وويل چي دا الاهي ږغ وه اوس خوبه مويقين راغلي وي.
زمادپرمختګ دمخنيوي لپاره ئي دځنګلونوپه جكو ونوكي خلک كينول اوپه چغو چغوئي ناري كړي امان الله خان كافردي امان الله خان كافردي دكلي ملكانوخلكو ته وويل دادملائكوږغ دي اودوي رښتيا وائي غازي كافرشويدي خوزه كافرنه وم بلكي د دوي دراتلونكي غم راسره وه.
يوه ورځ فكرراسره پيداشوچي ملايان خوعالمان دي كيداي شي چي ملاتړدي وكړي هغوي خوپوهيږي چي انسان په وسايلونه كافركيږي خبرراغلي چي پل دشتي اواسدابادجامع جوماتونوكي ستاپرضد خلكوته شعارونه ويل اوديوغل او خطاول طريقه اودنمک منډي اونانوئی ملاتړيی وكړ.
خبرپال ليكي چي ددي وروسته په ژړاشواومخ يي سمندرته كړاووويل وطنه ما وبخښه.وطنه ومي نشواي ساتلاي .
اونن هم هغه حالات بيا را روان دي اوبايد ټول افغانان هوښياروا وسو.
چي بيا وروسته ارمان ونه كړو. 

# شاه امان الله مړینه اودپاکستان غوښتنه

کله چی شاه امان الله خان ۱۹۶۰م کال کي دسویس په یوهسپتال کي له دي فاني نړي څخه سترګي پټي کړي .نودپاکستان هیواد درامنځته کیدو۱۳ کاله پوره شوي وه پاکستان دي ته لیواله وه چي شاه امان الله جنازه دي هلته خاوروته وسپارل شي داخرګندوني دامان الله خان لورهندیه کړیدي.

اودهندیه په خبره کله چي غازي امان الله لدي فاني نړي څخه سترګي پټي کړي نو افغان سفیرانودهغه دمړیني خبرافغانستان حکومت ته ورکړخوافغان حکومت هم نه پوهیده چي څه وکړي.نوپه همدي وخت کي دپاکستان حکومت لخواملکه ثرایا ته حوال ولیږل شوچي غازي امان الله خان مړي دي ددوي په خاوره کي ښخ شي. نودپاکستان حکومت به تاسوته ډیرڅه درکړي.خوشهزداګۍ هندیه په خبره زمامور دپاکستان داغوښتنه ردکړه.اوموږمي وويل چي پاکستان ته په وړلو به پدي ډیر خوشحاله وي چي دمرکشي پوځیانوپه هدیره کي خاوروته وسپارل شي.

اوهندیه وائي کله چي پاکستان داخبره وکړه نه پوهیږي چي دافغانستان دولت خجا لت شوکه څنګه.خوپدي وخت کي افغانستان دولت وويل چي افغانستان ته يی مړي راوړي اوافغانستان په رسیدويي په جلال ابادکي دامیرشهیدپه باغ کي دخپل پلار دقبرترڅنګ خاوروته وسپارل شوه.                :روح دي ښاد وي:

افرین دیوې افغان میرمني ملکه ثرایا پرغیرت چي پاکستان ته يي ډیرزبردسته ځواب ورکړي.بیاهم افرین




## شاه امان الله خان سره دخلکو مینه

افغان تاریخ پوه ډاکټرعظم سیستاني په خبره:امان الله خان دومره پرخلکو کران وه هغه ورځ چي امیرامان الله خان دمړیني خبرخپورشوهغه ورځپاڼه چي په ۲روپیو وه قیمت یي ۴۰روپیوته ورسیدکه څه هم ډیرمعلومات پکښني نه وه یوازي هم دو مره پکښني لیکل شوي وه چي کله اوچیري امان الله خان وفات شواوعکس یي ور سره خپورشوي وه.دي وائي:خپگان اوپښیماني هغه دوه احساسه وه چي په خلکو کي لاډیرپیداشول.دسیستاني په وینا:دامان الله خان دمړیني سره خلک دی ته متو جي شول چي وغولیدل چي دوي زړه سواند،ښځوزده کړوملاتړي اومترقي اوپر معارف میئن باچایي له لاسه ورکړ.یوشمیرافغانانوافسوس کاوه چي ولی یي پرضد ودریدل.امان الله خان یوازی افغانستان پوري محدودنه وه په پښتون خواکي اوترد ي چي دانګریزچارواګوپام ځانته اړولي وه چي په اړه یي لیکلی دي.چي دهند مسلمانانوهم شاه امان الله خان خپل باچا ګڼه.




# افغان ولسمشرمحمداشرف غني لخوا شاه امان الله خان نيمگړي ارمان پوره کول

جلالتماب جمهوررئس محمداشرف غني داداري کمپلکس په جوړولوسره دشاه امان الله خان نيمگړي فصل بشپړوي.ددارلامان اداري کمپلکس جوړيدل دشاه امان الله خان يوله ستروارمانونوڅخه وه چي وروسته ديوي پيړي عملی کيږي.

داداري کمپلکس جوړيدلووروسته افغانستان به دونياکي۵هيوادشي داڅول اداري کمپلکس لري دکمپلکس په جوړيدوبه۲۷دولتي اداري،وزارتونه،خپلواکي اداري اوعدلي اوقضائي بنسټونه ټول دارلامان ته راوليږل شي.

ولسمشرمحمداشرف غني ۴ کاله وړاندي ويلي وه چي ۹۰سلنه اداري به دارلامان ته وليږدوي دارلامان ته دوزارتونوليږدکيدوسره به دپلازمينی په مرکزي برخه کي بي روبارکم شي .

# ماخذونه

۱: انټرنيټي ويبپاڼې.

۲:تاريخي ويډيوګاني.

۳:بيلابيل تاريخي کتابونه.

# دعبرت ښخه ډګه وينا

زموږ افغانانولپاره ډيردافسوس خبره داده کله چي يومشرژوندي وي موږئي هيڅ قدرنه کوه.اوکله چي بيا هغه مشرمړشي بيانوارمان اوافسوس کوه چي کاش کي مودخپل مشرترښنګ دريدلي واي.داوينا مي دشاه امان الله خان دژوند کيسي ليکلو ښخه زده کړه.

[سرور احمد:مخلص:له ويناوښخه]